2 017550 139621

# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د وري پنځمه | د ۲۰۲۰ د اگسټ ۲۶مه | ۵۸۵یمه گڼه

# له بلخ تر کندهاره خونړۍ جگړې؛

## د سولې په درشل کې طالبانو په بلخ کې خونړۍ ځانمرگی برید کړی دی



۳

د جگړې شدت او د سولې په تړه دریدلی حالت

۲ مخ

د افغانستان د اقتصادي پرمختگ پر وړاندې ستر خنډونه

۲ مخ


تهران-کاراکاس؛ یک اقیانوس و سه دریا فاصله

۳ مخ

## کتاب

۴ مخ

### د ژوند ۱۳ رازونه



اروا‌پوهنې په دې وروستیو کې ډېر پرمختگ کړی دی، له خپل پرمختگ سره یې جوخت هغو تولنو ته هم د پرمختگ واگې په لاس ورکړې چې اروا‌پوهنه مطالعه کوي او اروا‌پوهنې ته د ارزښت په سترگه گوري، خو په هر حال اروا‌پوهنه هغه علم و چې د انسان نه لیدونکي قدرتونه یې ولیدل.

### کرنې ریاست: د کندهار د انارو سږني حاصلات به ۱۹۰ زرو ټنو ته ورسیږي



د کندهار د کرنې او مالدارۍ ریاست وایي، چې د دغه ولایت د انارو سږني حاصلات د کمیت او کیفیت له پلوه ښه او ډېر شوي دي.

یاد ریاست وایي، چې د دغه ولایت په نهه زره او ۵۰۰ هکتاره ځمکه کې د انارو بڼونه جوړ شوي، چې سږني حاصلات به یې ۱۹۰ زره ټنو ته ورسیږي.

د کندهار د کرنې رییس سید حفیظ الله سیدي وایي، چې له بڼوالو سره د کرنې ریاست تخنیکي او فني سلامشورې، همکارۍ او مرستې سږکال په دغه ولایت کې د انارو بڼونو حاصلات ډېر کړي دي. د سیدي په خبره، په ۱۳۹۸ لمریز کال کې د دغه ولایت د انارو تولیز تولید ۱۷۸ زره او ۱۲۵ ټنه و، خو سږکال به دا شمېره ۱۹۰ زرو ټنو ته پورته شي، چې د تېر کال په پرتله لس سلنه زیاتوالی ښیي.

### وردگ ولسونه: په کابل کې د وردگ مشرانو پر ترور او وژنو د حکومت چوپتیا راته د منلو نه ده

د میدان وردگو ولایت لسگونو اوسېدونکو او مشرانو په کابل کې د یوې غونډې پرمهال د خپلو مشرانو، علمي کادرونو او مخورو ترور او ځنځیري وژنې وغندلې.

دوی دغه راز پر حکومت نیوکه وکړه چې په کابل کې هره ورځ وردگ مشران، ځوان کادرونه، علمي او مخور کسان په مرموز ډول وژل کېږي، خو حکومت نه یوازې دا چې د دوی د امنیت په خوندیتوب کې پاتې راغلی، بلکې په دې تړاو یې چوپتیا غوره کړې ده.

دوی همدارنگه پر حکومتي سرتېرو هم نیوکې وکړې چې په میدان وردگو ولایت کې د جگړې پرمهال له درنو وسلو څخه کار اخلي چې تر ډېره پکې ملکیانو ته د سر او مال زیانونه اوړي. دغو مشرانو حکومت او ولسمشر غني تورن کړ چې له دوی سره په کړو ژمنو کې پاتې راغلی او له همدې کبله د خلکو او حکومت ترمنځ واټن هم ورځ تر بلې ډېرېږي. یادو مشرانو پر حکومت غږ وکړ چې که په کابل کې د دوی د امنیت د خوندیتوب لپاره جدي اقدامات ونه کړي، ولسونه به په دې تړاو پرېکړه وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په کابل او په ځانگړې توگه په پنځمه امنیتي حوزه کې نا امني او د مشرانو ځنځیري او مرموزې وژنې ډېرې شوې دي.

### که طالبان له ترهگرو ډلو سره اړیکې پرې نه کړي، د سولې هیڅ تړون به ورسره ونه شي



۵ مخ

### وزارت داخله: درجریان دو هفته جنگ و درگیری ۲۲۱ فرد ملکی کشته و زخمی شده اند




وزارت امور داخله می گوید که درجریان دو هفته گذشته ۲۲۱ فرد ملکی در ۲۷ ولایت کشور در نتیجه تحرک گروه طالبان کشته و زخمی شده اند.

طارق آرین سخنگوی وزارت امور داخله دیروز در صحبت با رسانه ها گفت که از نتیجۀ ۷۸۱ تحرک طالبان در جریان دو هفته گذشته، ۸۸ فرد ملکی جان باخته و ۱۳۳ تن دیگر زخمی شده اند .

او می گوید که طالبان در دو هفته گذشته در ۲۷ ولایت تحرکات را انجام داده اند که بیشترین تلفات به افراد ملکی در ولایات کندهار و غزنی وارد شده است.

وی افزود: « گروه طالبان با بی پروایی و بی تفاوتی تمام به کشتار مردم بی دفاع و بی گناه افغانستان ادامه می دهند.»

به گفتۀ موصوف، هدف قرار دادن افراد ملکی خلاف تمام موازین انسانی، دینی، اخلاقی و جنگی محسوب می شود که همواره گروه طالبان این موارد را نادیده گرفته است.

این در حالی است که اخیراً در سطح کشور به خصوص شهر کابل انفجار ماین های جاسازی شده و مقناطیسی افزایش یافته که بیشترین تلفات را به افراد ملکی وارد کرده است.


قابل ذکر است که به اساس توافقنامه صلح میان ایالات متحده امریکا و طالبان که در دهم حوت سال ۱۳۹۸ در قطر امضا شده، برعلاوۀ رهایی ۵۰۰۰ زندانی طالبان و یک هزار زندانی حکومت ، کاهش خشونت ها ازموارد عمده این سند بوده است که زمینه را برای آغاز گفتگوهای بین الافغانی فراهم میکرد .

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## دریځ

### د جګړې شدت او د سولې په تپه دریدلی حالت

پرون په بلخ ولایت کې د امنیتي ځواکونو پر یو مرکز برید شوی چې ډېرو کسانو ته یې مرګ ژوبله اړولې ده. دفاع وزارت وایي چې په برید کې ډېره مرګ ژوبله ملکي وګړو ته اوښتې، خو طالبان بیا ادعا کوي چې برید یې د صفر شپږ په نوم د ځانګړو ځواکونو په قطعه کړی دی او درنه مرګ ژوبله یې ور اړولې ده. طالبان وایي چې دې قعطې په شمال کې د داعش د فعالولو هڅې کولې. دا پر امنیتي ځواکونو ځووم خونړی برید دی چې په تېرو څو ورځو کې کېږي.
په دې ورځو کې نږدې هره ورځ د لسګونو امنیتي ځواکونو د مرګ ژوبلې خبرونه وي او حکومتي ځواکونه هم هره ورځ د لسګونو طالبانو د وژلو او ټپي کولو خبرونه ورکوي. په دې سره جګړه ګرمه شوې چې د دواړو اړخونو تر څنګ یې ملکي وګړو ته هم پراخه مرګ ژوبله اړولې ده.
وېره ده چې د جګړې او نښتو وروستي پېښې به یو ځل بیا دواړه لوري له یو بل څخه انتقام اخیستو ته وهڅوي. په دې ډول به همدا غبرګونونه جګړه ورو ورو ګرمه کړي او د سولې په برخه کې شوي پرمختګونه به له منځه یوسي. له بده مرغه د جګړې هڅې شته، محسوسې دي او زیاتیږي، خو د سولې له مشورتي لویې جرګې وروسته د سولې په برخه کې نه کومه لویه هڅه ښکاري او نه کوم محسوس او نوی پرمختګ شوی دی. آن نوي خنډونه رامنځ ته شوي دي او د لا زیاتو خنډونو د جوړولو لپاره منظمه او سیستماتیکه هڅه روانه ده.
د سولې په برخه کې له شلو کلونو وروسته یو ښه چانس ضایع کېدونکی دی. دا داسې چانس دی چې پر مټ یې موږ د افغانانو د وینو سیلاب درولی شو، داسې فرصت دی چې موږ پکې عزت او سرلوړی ته رسېدلی شو او له اوسني ناورین څخه وتلی شو. له همدې امله هر څوک چې افغان وي او پر دې ولس یې زړه درد کوي، نه یوازې دا چې د سولې روانې پروسې ته به ستونزې نه جوړوي، بلکې مرسته به ورسره کوي او په دې برخه کې به قربانۍ ته تیار وي. له بده مرغه اوس ځینې کړۍ په واضح ډول غواړي چې د سولې پروسه بریالۍ نه شي، جګړه، افغان‌وژنه او زموږ ذلت همداسې دوام وکړي. دوی د خپل واک او ځواک لپاره او د خپلو جیبونو د ډکولو لپاره غواړي زموږ د وینو سیلاب همداسې روان وي.
یوه اصلي ستونزه دا ده چې دلته خلک د امریکایي فشار په تمه دي او خپله د یو قوي او واقعي فشار جوړولو او د سولې په برخه کې یې د کارولو هڅه نه کوي. تر هغو چې موږ د نورو په تمه وو، طبیعي ده چې پایله به ورکه او آن زموږ په زیان وي، خو که موږ خپله هڅه وکړو، ولسي فشار رامنځ ته کړو او بیا یې د سولې لپاره وکاروو، نه یوازې دا چې د سولې په برخه کې به شته خنډونه ختم شي، بلکې سوله به ژر او په ښه ډول هم وشي.

# د افغانستان د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې ستر خنډونه

لیکنه: ناصر انځور

**لومړی برخه:**

مخکې له دې چې په اقتصادي پرمختګ خبرې وکړو، باید وپوهېږو چې اقتصادي پرمختګ څه ته ویل کېږي؟ اقتصادي پرمختګ په یو معین وخت کې په یو هېواد یا ټولنه کې د ارامه ژوند کولو لپاره د تولیداتو او خدمتونو د کچې د لوړوالي په مانا دی. دا پرمختګ د یو هېواد د سیاسي او امنیتي حالت، په دې هیواد کې د طبیعي زیرمو او کاري قوې د شتون او سمندر ته د لارې درلودلو سره نېغ په نېغه اړیکې لري. همدارنګه د سیمې هېوادونه او له نورې نړۍ سره اړیکې هم د یو هېواد په پرمختګ اغېزې لري.
افغانستان چې د اسیا په لویه وچه کې پروت او د زیاتو طبیعي زیرمو او روانو اوبو لرونکی هېواد دی، اقتصاد یې بیا هم کمزوری او تر ډېره بریده په بهرنیو مرستو تکیه لري. له ۲۰۰۱ زیږدیز کال راپدېخوا د هېواد اقتصادي او ټولنیز پرمختګ ته په وار وار زمینه برابره شوه. په لوېدیځه نړۍ کې له مالي بحران سره سره په افغانستان کې له تېرو دوو لسیزو راپدېخوا د نظام په جوړښت، ټولنیز ژوند، تعلیم او اقتصادي پرمختګ کې د پام وړ بدلونونه رامنځته شول. په ۲۰۰۹ زیږدیز کال کې نړۍ له مالي بحران سره لاس او ګریوان وه، خو د نړیوال بانک د راپور له مخې بیا د افغانستان د کورني ناخالص تولید پرمختګ ۲۱،۳ سلنه و؛ هیره دې نه وي چې دا پرمختګ په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې یوازې ۲،۹ سلنه و.
د تادیاتو په بیلانس کې له ستر کسر سره په خوا کې د افغانستان اقتصاد تر زیاتې کچې په نړیوالو مرستو تکیه دی. یوازې امریکا دا ادعا کوي چې په افغانستان کې د کال تر څلور میلیارد ډالر په نظامي برخه کې او تر پنځه سوه میلیونو ډالرو په انکشافي او ټولنیزو برخو کې مصرفوي. دا په داسې حال کې ده چې سږ کال امریکا د افغان سیاسونو تر منځ د لانجو په دلیل له افغانستان سره د یو میلیارد ډالرو مرسته لغوه کړه.
له دویم نړیوال جنګ وروسته امریکا د اروپا شپاړس هېوادونو سره ۱۳ میلیارده ډالره چې ارزښت یې اوس تقریباً ۱۰۵ میلیاردو ډالرو سره برابر دی، مرسته وکړه. اوس اروپا د نړۍ تر ټولو پرمختللې برخه بلل کېږي. له بل پلوه له ۲۰۰۱ زیږدیز کال راهیسې امریکا په افغانستان کې له ۱۳۵ میلیاردو ډالرو څخه د زیاتو مالي مرستو ادعا کوي.
په دې وروستیو کې د کرونا ویروس بحران یو ځل بیا د نړۍ اقتصاد وځاپه؛ خو په عین وخت کې د نړۍ مخ یو ځل بیا افغانستان ته راواوښت. بېلابېلو هېوادونو او معتبرو ادارو له افغانستان سره خپلې مرستې اعلان کړې. نړیوال بانک له افغانستان سره په لومړي سر کې د ۱۰۰،۴ میلیونو ډالرو او بیا د ۴۰۰ میلیونو ډالرو مرستې اعلان وکړ. د پیسو نړیوال صندوق (IMF) بیا د ۲۲۰ میلیونو ډالرو د پور وعده وکړه. امریکا د ۱۸ میلیونو ډالرو مرسته اعلان کړه. اروپایي اتحادیې بیا سږ کال ۵،۳ میلیونه ایرو د نړیوال صحي سازمان له لارې افغانستان سره مرسته کړې. هندوستان هم په ټنونو ټنونو غله- دانه افغانستان ته راولېږله.
اوس له ډېرو خلکو سره دا پوښتنه راولاړېږي چې ولې د افغانستان اقتصاد د دومره طبیعي زیرمو او نړیوالو مرستو سره سره بیا هم لکه څرنګه چې لازم و؛ هغسې پرمختګ ونه کړ؟ اوسمهال په افغانستان کې د بېکارۍ کچه خورا لوړه ده. تر ۵۴ سلنې زیات افغانان د غربت د کرښې لاندې ژوند کوي. د کورني ناخالص تولید وده یې تل ټیټه او سږ کال حتی منفي اټکل شوې.
د ترانسپورټ سکتور یې پیچلی دی، له ټکنالوژۍ ډېر لرې پاتې دی. د وارداتو په پرتله یې کورنی تولید په نشت حساب دی او اقتصاد یې تر ډېره بریده عنعنوي شکل لري. اوس هم په ځینو سیمو کې د جنس په جنس تبادله یا Barter System کاروي. ښه بېلګه یې د ژرنده ګرې، نجار او بزګر ترمنځ معامله ده. د پورته پوښتنې د ځواب لپاره لومړی باید د افغانستان د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ پر وړاندې مهمې ستونزې په نښه او وڅېړل شي. په ټوله کې د افغانستان د پرمختګ پر وړاندې تر ټولو لوی خنډونه په لاندې ډول دي:
لومړی: د افغانستان د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ پر وړاندې تر ټولو لوی خنډ د امنیت نشتون او د سیاسیونو ترمنځ بې اتفاقي ده. جنګ او بد امني د یوې ټولنې د هرې بدبختۍ ستر لامل دی او دا ستر لامل له کلونو راهیسې د افغانستان میلمه دی. په بد امنۍ کې پانګوال په اسانۍ پانګه اچونې ته زړه نه ښه کوي؛ ځکه د دوی پانګه او شتمني خوندي نه ده. جنګ او بد امني نه یوازې دا چې د پانګوالو او سوداګرو پانګې او شتمنۍ ته ستر ګواښ دی، بلکې په افغانستان او نړۍ یو ستر مالي بوج هم دی. د پیسو د نړیوال صندق د یو راپور په اساس، افغانستان د کورني ناخالص تولید ۳۰ سلنه برابرې پیسې په امنیتي سکټور مصرفوي.
دویم: ښکاره خبره ده چې افغانستان د زیاتو طبیعي زیرمو او اوبو لرونکی هېواد دی. څېړنې ښیي چې د افغانستان د زیرمو ارزښت له درې ټریلیونو ډالرو څخه هم زیات دی. له بل پلوه، د دنګو غرونو درلودلو سره دا هېواد له ۱۳۰ څخه زیات کوچني او لوی سیندونه لري او تقریباً ۷۵ میلیارد متره معکبه د اوبو کلنۍ جریان لري؛ خو له بده مرغه افغانستان د خپلو اوبو یوازې له ۳۰ سلنې څخه په خپل هېواد کې ګټه پورته کوي. همدارنګه افغانستان د خپل ستراتیژیک موقیعت او تاریخي قدامت په دلیل تل د نړۍ د سترو قوتونو د سیاسي لانجو په میدان بدل شوی. له دې سره په خوا کې د افغانستان پرمختګ د ځینو هېوادونو په صادراتو منفي اغیزې لري. هغه ځکه چې په افغانستان کې د نوموړو هېوادونو توکو او خدماتو ته تقاضا کمېږي. نو ویلی شو چې زیاتې طبیعي زیرمې، پراخه روانې اوبه، بهرنیو توکو ته د تقاضا کموالی او ستراتیژیک موقیعت په افغانستان کې د ګاونډیو او نورو هېوادونو د لاسوهنې عمده دلایل دي او د نورو هېوادونو لاسوهنه د افغانستان د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ پر وړاندې له سترو خنډونو څخه دي.
دریم: د افغانستان د پرمختګ پر وړاندې بل خنډ جغرافیایي موقیعت دی. که څه هم افغانستان د خپل جغرافیایي موقیعت په درلدو سره د نړۍ په اقتصادي او سیاسي نظام کې تل اساسي رول لوبولی دی؛ په خاصه توګه د نولسمې پیړۍ ترمخه نوموړي هېواد د نړۍ په اقتصاد کې ستر ارزښت درلود. دلیل یې دا و چې نوموړې سیمې د نړۍ لر او بر سره نښلولې. د وربښمو تاریخي لار یې ښه بېلګه ده. خو کله چې د نړۍ سیاسي او اقتصادي وضیعت بدلون وموند، د کرنې او صنعت سکټورونو پرمختګ وکړ، د ترانسپورټ په برخه کې د اورګاډو، لویو بېړیو او هوایي دهلیزونو استعمال رامنځته شو، نو افغانستان په اقتصادي لحاظ خپل ارزښت یوه څه له لاسه ورکړ. له دې سره په خوا کې افغانستان یو له هغو ۴۹ هیوادونو څخه دی، چې په وچه کې ایسار دی. د ترانسپورټ لوړ مصارف، سمندري منابعو ته لاسرسی نه درلودل، په نورو هېوادونو تکیه کول او په نظامي لحاظ کمزورتیا هغه ستونزې دي چې په وچه کې را ایسار هېوادونه یې لري. همدا دلایل دي چې په نسبي ډول هغه هېوادونه چې له سمندر سره نښتي دي، زیات پرمختللي دي.
څلورم: د افغانستان د پرمختګ پر وړاندې بل خنډ فساد دی. د شفافیت نړیوالې ادارې لخوا د نړۍ د لړو فاسدو هیوادونو په تازه درجه بندۍ کې د افغانستان نوم په لسو زیاتو فساد کوونکو هېوادونو کې راغلی. فساد د نورو فعالیتونو په ګډون د هر اقتصادي فعالیت پر وړاندې یو خنډ دی. ښه بېلګه یې زموږ په هېواد کې په ګمرکونو کې فساد دی چې د سوداګرۍ پر وړاندې ستونزې راولاړوي او سوداګر بیا د دغو ستونزو زور له عام ولس څخه وباسي. کله چې په یو هیواد کې د فساد کچه لوړه وي، پانګوال او سوداګر دې ته زړه نه ښه کوي چې په نوموړي هېواد کې پانګونه وکړي؛ چې دا عمل بیا د خصوصي سکټور د کمزورتیا لامل ګرځي.
پنځم: جنګ، بد امني، د بهرنیو هېوادونو لاسوهنې، فساد، غربت او بېکارۍ د افغانستان د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې بل ستر خنډ زیږولی؛ چې بې سوادي او د تعلیم د کچې ټیټوالی دی. د یونیسف ادارې د راپور له مخې، همدا اوس شاوخوا ۳،۷ میلیونه افغان ماشومان په ښوونځیو کې شامل نه دي؛ چې ٦۰ سلنه یې نجونې دي. ټولو ته دا جوته ده چې د اقتصاد علم په اړه د افغانانو پوهه محدوده ده. حتی په زیاتو سیمو کې ډېر کارونه شرم ګڼل کیږي. د بیلګې په توګه، نایبتوب، ندافي، د ژرندې چلول او ترکاڼي هغه کارونه دي چې اکثره افغانان یې شرم ګڼي؛ په داسې حال کې چې دا کارونه د یوې ټولنې لپاره خورا اړین دي. د تعلیم د کچې په ټیټوالي سره د افغانستان په ځینو سیمو کې اوس هم عنعنوي اقتصاد رواج دی. نو ویلای شو چې بې تعلیمي او د پوهې نشتوالی د افغانستان د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې یو له خنډونو څخه دی.

**دوام لري...**

# ټرمپ: د پوست له لارې ټاکنې به د امریکا په تاریخ کې له درغلیو تر ټولو ډکې ټاکنې وي



د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې د احتمالي درغلۍ په اړه خبر داری ورکړی دی.
نوموړي په شمالي کارولینا کې د خپل جمهوري غوښتونکي ګوند کنوانسیون ته ویلي، چې ډیموکراټان د امریکایي ولس د تېر ایستلو لپاره کرونا کاروي. ټرمپ خپله دا ادعا بیا تکرار کړه چې د پوست له لارې رایه به درغلیو ته لار جوړه کړي.
دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ولسمشریزې ټاکنې په راتلونکې نومبر کې کېږي او اصلي سیال نوماندان یې د جمهوري غوښتونکي ګوند ډونالډ ټرمپ او د ډیموکراټ ګوند جوبایډن دي.
په ورته وخت کې د دغو ټاکنو په تړاو نظرپوښتنې ښیي چې ټرمپ له ډیموکراټ سیال جوبایډن څخه وروسته دی. ټرمپ د خپل ګوند استازو ته په حضوري غونډه کې د خبرو پرمهال چې د کرونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره کمو کسانو پکې ګډون کړی و، ډیموکراټان تورن کړل چې د کرونا ویروس په کارولو سره غواړي ټاکنې پټې کړي. هغه زیاته کړې: «یوازینۍ لار چې دوی له موږ ټاکنې ګټلی شي، دا ده چې درغلي وشي،خو موږ ګټونکي یو.»
دا په داسې حال کې ده چې ټرمپ د ۲۰۱٦ ز کال په ټاکنو کې هم د درغلۍ خبرداری ورکړی و او هغه مهال هم په نظرپوښتنو کې له سیالې نوماندې هېلري کلېنټن شا ته و.
د یادونې ده چې په تشریفاتي ډول ټرمپ د دوشنبې په ورځ په چارلټو ښار کې د جمهوري غوښتونکي ګوند په ملي غونډه کې رسمي نوماند شو.
ټاکلې شوې چې ولسمشر ټرمپ د نوماندۍ منلو په موخه د جمهوري غوښتونکي ګوند غونډې ته راتلونکې پنجشنبه وینا وکړي. که څه هم د نوماندۍ له منلو وړاندې وینا نادوده ده، خو ټرمپ خپلو ګوندي غونډې ته نږدې یو ساعت خبرې وکړې.
د ټرمپ ملاتړو د نوموړي د څرګندونو هرکلی کاوه او دا شعار یې وایه: «نور څلور کلونه». ولسمشر پکې ور ګډ شو او ویې ویل، اوس که ریښتیا غواړی چې دوی لېوني کړئ، نو ووایئ ۱۲ نور کلونه، خو د امریکا د اساسي قانون له مخې ولسمشر د دوو دورو یا اتو کلونو لپاره ولسمشري کولی شي.
ټرمپ بیا بیا اندېښنه څرګنده کړې چې د پوست له لارې ټاکنې چې سږ کال به د کرونا ویروس له امله ډېرې وکارېږي، د امریکا په تاریخ کې به له درغلۍ ډېرو ډکو ټاکنو ته لار برابره کړي.

# تهران-کاراکاس؛

## یک اقیانوس و سه دریا فاصله

مهدی عابدی- روزنامه‌نگار

مقام‌های ایران و ونزوئلا در ماه‌های اخیر و در یک چرخش استراتژیک تلاش کرده‌اند تا با انجام مبادلات تجاری نفتی، هم خود را از حلقه تنگ فشارهای اقتصادی ناشی از تحریم‌های یک‌جانبه ایالات متحده آمریکا نجات دهند و هم در مانوری تبلیغاتی ضربه‌ای به دولت دونالد ترامپ در ماه‌های منتهی به انتخابات ریاست جمهوری آمریکا وارد کنند.

هر چند تهران و کاراکاس در طول دو دهه گذشته همواره از مناسبات سیاسی و اقتصادی خوبی برخوردار بودند، اما ارسال پنج نفتکش حامل ۱.۵ میلیون تن بنزین و گازوئیل از ایران به ونزوئلا در خرداد ماه توجه فراوانی را به خود جلب کرد.

بنابر اعلام مقام‌های ایرانی، بهای فراورده‌های نفتی ارسالی به ونزوئلا یا دستکم بخشی اصلی آن پیشاپیش پرداخت شده بود. برخی گزارش‌های تایید نشده از آن حکایت داشت که دولت ونزوئلا با ارسال طلا به ایران بهای محصولات نفتی دریافتی را پرداخت کرد.

کمی بعد از آن و در مرداد ماه، شعبه‌ای از فروشگاه اتکا، وابسته به وزارت دفاع ایران، با نام مگاسیس در پایتخت ونزوئلا افتتاح شد. افتتاح این فروشگاه نیز با تبلیغات گسترده‌ای همراه بود و از سوی سیاستمداران تهران و کاراکاس به عنوان نشانه‌ای از شکست پروژه فشار حداکثری ایالات متحده آمریکا بر این دو کشور مطرح شد.

ایران، حامی مادورو در ونزوئلا، به دنبال چیست ؟

این اولین‌بار نیست که دولت‌های ایران و ونزوئلا تلاش می‌کنند تا مناسبات سیاسی و اقتصادی خود را گسترش دهند. دوران طلایی این روابط در دوران ریاست جمهوری محمود احمدی‌نژاد در ایران و هوگو چاوز در ونزوئلا روی داد.

در نیمه دوم دهه ۱۳۸۰ شمسی و زمانی که دولت احمدی‌نژاد با بحران اقتصادی شدید و تحریم‌های بین‌المللی مواجه بود، مقام‌های ایرانی با چرخش به سمت ونزوئلا تلاش کردند تا هم جای پای خود را در آمریکای لاتین گسترش دهند و هم از شرکای اقتصادی تازه‌ای برخوردار شوند.

در آن دوران، روابط تجاری دو کشور محدود به صادرات محصولات نفتی نبود و حتی شرکت‌های ساختمان‌سازی وابسته به سپاه پاسداران ایران از این کشور آمریکای لاتین سردرآوردند و پرواز هفتگی تهران- دمشق - کاراکاس نیز آغاز به کار کرد.

اوج مناسبات اقتصادی آن دوران به سال ۱۳۹۲ باز می‌گردد که بر اساس آمار ارائه شده از سوی ایران، این کشور بیش از ۱۲۰ میلیون دلار کالا و خدمات به ونزوئلا صادر کرد.

با این حال مناسبات اقتصادی دو کشور پس از روی کار آمدن حسن روحانی در ایران و نیکلاس مادورو در ونزوئلا با کاهش چشمگیری مواجه شد و صادرات ایران به این کشور آمریکای لاتین در چهار ماه اول سال ۱۳۹۵ به ۴۸۸ هزار دلار کاهش یافت.

با وجود فراز و فرودهای فراوان در مناسبات اقتصادی دو کشور، ایران و ونزوئلا در طول دو دهه گذشته مناسبات سیاسی خود را حفظ کردند و تلاش کردند تا در تمامی مجامع بین‌المللی به عنوان حامی یکدیگر ایفای نقش کنند.

آنچه این روزها به طرح دوباره بحث برقراری مناسبات اقتصادی بین تهران و کاراکاس اهمیت می‌دهد، بازه زمانی‌ای است که این رویدادها در آن اتفاق می‌افتند.

شرایط سیاسی و اقتصادی ایران از سال ۲۰۱۸ و خروج دونالد ترامپ، رئیس جمهوری آمریکا، از برنامه جامع اقدام مشترک یا برجام، به شدت تغییر کرده است. دولت ایران که امید فراوانی به بهبود روابط تجاری و اقتصادی با کشورهای قدرتمند جهان داشت، به این واقعیت پی‌برد که بدون دست یافتن به توافقی با آمریکا امکان دستیابی به بازارها بین‌المللی را ندارد.

از سوی دیگر چین و روسیه نیز که به عنوان دو حامی سنتی ایران شناخته می‌شوند، نشان دادند که وقتی با تهدید تحریم‌های آمریکا مواجه می‌شوند، حاضر به فدا کردن منافع اقتصادی خود برای کمک به ایران نیستند.

هزاران مایل دورتر از تهران، در کاراکاس نیز دولتمردان این کشور که باید جوابگوی صف‌های طولانی مردم در برابر پمپ‌های بنزین باشند، هیچ متحد استراتژیکی برای انجام مبادلات اقتصادی و بهبود شرایط زندگی مردم خود ندارند.

ضمن آنکه دولت مادورو با درگیری‌های داخلی فراوان و کشمکش‌های سیاسی عمیقی روبروست که به مشروعیت دولت او آسیب رسانده و حتی آن را در خطر سقوط قرار داده است. ضمن اینکه تلاش‌های نظامی برای سرنگونی دولت او، مانند کودتای اردیبهشت ماه گذشته، همچنان از سوی مخالفانش ادامه دارد.

در چنین شرایطی، دو کشوری که هر دو به شدت از مشکلات اقتصادی ناشی از تحریم‌های دولت دونالد ترامپ تحت فشار قرار دارند، به دنبال روزنه‌ای برای دریافت کمی هوای تازه برای تنفس هستند. شاید از این منظر بتوان نگاه دقیق‌تری به ارسال محموله بنزین از سوی ایران به ونزوئلا و افتتاح فروشگاه محصولات ایرانی در کاراکاس داشت.

بسیاری از کارشناسان اقتصادی این بحث را مطرح کرده‌اند که ارسال چنین محموله‌هایی با نفتکش‌های کوچک مقرون به صرفه نیست و از نظر اقتصادی عقلانی به نظر نمی‌رسد. چراکه نفتکش‌های ایرانی برای رسیدن به ونزوئلا باید از دریا سرخ و مدیترانه عبور کنند، تمام اقیانوس اطلس را پشت سر بگذارند و با ورود به دریایی کارائیب بعد از ۴۵ روز به مقصد برسند.

اما اهمیت تبلیغاتی این مبادله، هم در داخل این دو کشور و هم در سطح بین‌المللی، عاملی است که تهران و کاراکاس را یکبار دیگر به سمت هم متمایل کرده است، حتی اگر سود اقتصادی این روابط، چندان قابل توجه نباشد. چرا که هم ایران و هم ونزوئلا به خوبی می‌دانند که نمی‌توانند به عنوان شریکی استراتژیک و قدرتمند روی یکدیگر حساب کنند.

هر کدام از این دو کشور، به محض اینکه بتواند روابط اقتصادی خود را با کشورهای قدرتمند جهان تجدید کند، عطای مناسبات اقتصادی با شریک کم قدرت خود را به لقایش می‌بخشد. اما در شرایط فعلی که عملا هیچ یک از قدرت‌های اقتصادی از ترس تحریم‌های آمریکا، حاضر به همکاری با ایران و ونزوئلا نیستند، این دو کشور نیز چاره‌ای جز چرخش به سمت هم ندارند.

به این نکته نیز باید توجه کرد که دولتمردان تهران و کاراکاس، گوشه چشمی نیز به انتخابات پیش‌رو در آمریکا دارند و امیدوارند تا با انجام مانورهای تبلیغاتی، امکان انتخاب دوباره ترامپ را تا حد ممکن کاهش دهند. مناسبات اقتصادی تازه این دو کشور نیز در همین ساختار تعریف می‌شوند.

این سیاستمداران به خوبی می‌دانند هر خبری که در مورد ناموفق بودن سیاست فشار حداکثری آمریکا منتشر شود، ضربه‌ای به وجهه دونالد ترامپ و کارزار انتخاباتی او به شمار می‌رود. از همین رو، کوچک‌ترین موفقیت این دو کشور در برقراری ارتباط تجاری، با تبلیغات گسترده‌ای همراه است و به سرعت به صدر اخبار بین‌المللی نیز راه پیدا می‌کند.

در نظر گرفتن این نکته، روشن می‌کند که چرا در روزهای اخیر با وجود انتشار خبر توقیف محموله‌های چهار تانکر که از ایران عازم ونزوئلا بودند، سیاستمداران ایرانی ترجیح دادند با سیاست صبر و سکوت نسبت به آن واکنش نشان بدهند. به احتمال زیاد، تهران و کاراکاس همین سیاست را در ماه‌های منتهی به انتخابات آمریکا دنبال خواهند کرد، تا مبادا یک برد سیاسی در عرصه بین‌امللی به دونالد ترامپ هدیه کنند.

# له بلخ تر کندهاره خونړۍ جگړې؛

## د سولې په درشل کې طالبانو په بلخ کې خونړی ځانمرگی برید کړی دی



په سیمه کې د طالبانو له سیاسي تحرکاتو سره هممهاله دغه ډلې خپل بریدونه هم ډېر کړي دي. تازه يې په ځينو ولايتونو کې پر افغان ځواکونو گڼ بریدونه کړي. په غور کې يې افغان ځواکونو ته مرگ ژوبله اړولې ده او په بلخ ولسوالۍ کې يې بیا موټر بم برید وربانديې کړی دی.

بلخوا په کابل کې بیا ولس د سولې غوښتنه کوي، دوی په لويه غونډه کې پر دواړو لورو غږ وکړ چې نور دې افغان‌وژنه ودروي او د سولې لپاره دې عملي گامونه اوچت کړي. کورنيو چارو وزارت بیا وايي چې طالبانو په تېرو دوو اونيو کې لسگونه بریدونه کړي او ملکي وگړي يې وژلي دي.

طالب پلاوی د سولې په تړاو په پاکستان کې دی، خو په افغانستان کې د دې ډلې خونړي بریدونه روان دي. پرون طالبانو په بلخ ولايت کې د بلخ ولسوالۍ په مرکز کې د افغان ځواکونو پر یوه قرارگاه ځانمرگی برید وکړ. د لومړنيو معلوماتو له مخې، برید په داسې يوه ساحه کې شوی دی چې هلته يو حيواني کلينيک هم شته او د پېښې ډېری تلفات ملکي وگړو ته اوښتي دي. له سيمې رسيدلي انځورونه خورا بوږنوونکي دي او پکې ښکاري چې په سيمه کې د خلکو کورونه ويجاړ شوي دي او د ځاني تلفاتو تر څنگ درانه مالي تلفات هم ورته اوښتي دي.

ملي دفاع وزارت وايي چې په پېښه کې د ملي اردو يو سرتېری وژل شوی او شپږ نور ټپيان دي. په بلخ کې د شاهين قول اردو وياند حنيف رضايي د يادې مرگ ژوبلې د تاييد تر څنگ وايي، چې په پېښه کې تر پنځه دېرشو پورې ملکي وگړي ټپيان او دوه کسه وژل شوي دي. ملي دفاع وزارت هم د يوې اعلاميې په خپرولو سره دغه پېښه تاييد کړې ده؛ خو وايي تر ټولو ډېر تلفات په سيمه کې د ملکي وگړو کورونو ته اوښتي دي.

له دې برید څو ساعته وروسته وسله والو طالبانو اعلاميه خپره کړه او مسوولیت يې ومانه. دوی افغان ځواکونو ته د درنو تلفاتو د اړولو ادعا کړې ده. له دې سره جوخت طالبانو په غور ولايت کې هم پر افغان ځواکونو خونړی برید کړی دی او تلفات يې اړولي دي. په پېښه کې د ملي اردو شپږ سرتېري ټپيان شوي هم دي.

بلخوا د کورنيو چارو وزارت بیا ادعا کوي چې وسله والو طالبانو په تېرو دوو اونيو کې ۷۸۱ ترهگريز فعاليتونه کړي دي، چې ۸۸ ملکي وگړي يې له امله وژل شوي دي. د کورنيو چارو وزارت وياند طارق آرين مسير ورځپاڼې ته ويلي چې طالبانو په دې وروستيو کې خپل بریدونه ډېر کړي دي او دا د دې سبب شوي، چې ملکي تلفات لوړ شي. آرين وايي چې د طالبانو په بریدونو کې د ۸۸ ملکيانو پر وژل کېدو سربېره، ۱۳۳ نور ټپيان شوي هم دي. هغه زياتوي: «طالبانو پر افغانانو خپل بریدونه ډېر کړي دي. پر ملکيانو برید ستر بشري جنايت دی او موږ يو ځل بيا پر طالبانو غږ کوو چې له ورته ترهگريزو فعاليتونو لاس واخلي».

بلخوا پرون په کابل کې بيا يوه ستره ولسي غونډه شوې وه او گډونوالو يې ژر تر ژره د سولې د خبرو پيلېدل غوښتل. د دې غونډې گډونوالو پر طالبانو او حکومت غږ وکړ چې ژر تر ژره دې د عملي او رښتيني سولې لپاره هڅې پيل کړي او په دې توگه دې پر ملکي وگړو تحميل شوې جگړه ختمه کړي. د دوی په خبره، د جگړې تر ټولو ستر زيان او درنه مرگ ژوبله ملکي وگړو ته اوړي او دوی نور له جگړو ستړي شوي دي. د غونډې گډونوالو دغه راز وويل چې د سولې د راوستو لپاره به يو ستر ولسي خوځښت رامنځ ته کړي چې دوی به پر دواړو لورو د جگړې د پای ته رسولو لپاره فشارونه راولي.


## د کتـــاب خبـرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې

◎ لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### لومړی فصل

### دڅېړنې کلیات




د سړې جګړې له پای ته رسېدو وروسته د نړیوالتوب پروسې د سیمه‌ییزې همکارۍ په پراختیا کې مهم او د پام وړ رول ترسره کړ، نړیوال کېدو او د اقتصاد او ازاد بازار پراختیا یو پر بل د هېوادونو تړاو او تکیه کول ډېرکړل، له همدې امله اوسمهال هیڅ یو هېواد د دې وړتیا نه لري، چې خپل ملي اقتصاد په یوازې ځان مدیریت کړي سیمه‌ییزه همکاري نه یوازې دا چې له نړیوالتوب سره ټکر نه لري، بلکې نړیوالتوب او سیمه‌ییزه همکاري له یو بل سره مرسته او یو بل پیاوړي کوي .

افغانستان چې د اسیا په زړه کې موقعیت لري، په شمال کې یې د مرکزي اسیا هېوادونه، په ختیځ کې یې چین، په لوېدیځ کې یې ایران او په سوېل کې یې د سوېلي اسیا هېوادونه پاکستان او هند موقعیت لري د افغانستان جیو ستراتیژیک موقعیت ته په پام د سیمه‌ییزې همکارۍ پراختیا کولای شي د افغانستان په اجتماعي، اقتصادي ودې او پرمختګ او د سولې او ثبات دټینګښت په برخه کې مهم رول ترسره کړي له همدې امله د افغانستان د ملي پراختیا په ستراتېژۍ کې د سیمه‌ییزې همکارۍ پراختیا ته ځانګړی ځای ورکول شوی و او د افغانستان حکومت د افغانستان په تړاو د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو کنفرانسونو (ریکا) د جوړېدو او د استانبول پروسې د پیل لپاره زمینه او شرایط برابرکړي وو.

افغانستان د سیمې د سوداګریزو او ترانسپورتي لارو په څلورلارې کې قرار لري د افغانستان جیو ستراتیژیک موقعیت ته په پام د سیمې له هېوادونو سره د سیمه‌ییزې همکارۍ له لارې د اړیکو او همکاریو پراختیا د افغانستان لپاره ځانګړی ستراتیژیک ارزښت او اهمیت لري افغانستان د خپلو ټولنیزو او اقتصادي ستونزو د حل لپاره اړدی، چې د سیمې له هېوادونو سره همکاریو ته پراختیا ورکړي. له بل لوري له افغانستان سره مرسته او همکاري د سیمې د هېوادونو د امنیت او ثبات د ټینګښت او پرمختګ لپاره مهمه ګڼل کېږي .

د افغان حکومت لپاره د سیمې له هېوادونو سره د همکاریو پراختیا او سیمه‌ییزه همکاري یو له مهمو لومړیتوبونو څخه ګڼل کېږي له همدې امله د افغانستان د ملي پراختیا په ستراتېژۍ کې د سیمه‌ییزې همکارۍ پر پراختیا ټینګار شوی دی .د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې د هڅو په پایله کې د ۲۰۰۵ زکال په ډسمبر کې د افغانستان په اړه د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو کنفرانس لومړنۍ غونډه په کابل کې جوړه شوه .په سیمه کې ځینې سیمه‌ییز سازمانونه، لکه د جنوبي اسیا هېوادونو د همکاریو سازمان یا سارک، د اقتصادي همکاریو سازمان یا ایکو او د مرکزي اسیا د اقتصادي همکاریو سازمان چې افغانستان یې غړیتوب لري د سیمه‌ییزې همکارۍ په پراختیا کې مهم رول ترسره کړی دی. د پورتنیو سازمانونو ترڅنګ افغانستان د شانګهای د همکاریو په سازمان کې څارونکی غړی هېواد دی اود شانګهای سازمان یوه مهمه موخه د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همکاریو پراختیا ده.

افغانستان چې د اسیا په زړه کې موقعیت لري، ځانګړی موقعیت یې د دې سبب شوی، چې دغه هېواد د سیمې د هېوادونو ترمنځ د اړیکو او همکاریو د پراختیا په برخه کې مهم رول پیدا کړي.د افغانستان حکومت هڅه کړې چې د سیمې له هېوادونو او سیمه‌ییزو سازمانونو سره خپلو همکاریو او اړیکو ته پراختیا ورکړي او د افغانستان حکومت په خپل بهرني سیاست کې د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره هڅې کوي، د همدې سیاست له مخې افغانستان د سیمې له ځینو هېوادونو سره خپلو همکاریو ته پراختیا ورکړې وه.


د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره د خلکو نږدې کېدل او د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ د فرهنګي، علمي، اړیکو او همکاریو پراختیا ډېر مهم رول لري. د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ د یو ګډ هویت رامنځته کول او په سیمې پورې د هغوی تړل د سیمه‌ییز کېدو په لور یو مهم ګام ګڼل کېږي، د نظریاتو، لیدلوریو، عقایدو او ادبیاتو تبادله د یو ګډ سیمه‌ییز هویت رامنځته کولو او له ګډ پوهاوي سره ډېره مرسته کوي . سیمه‌ییزې همکارۍ یوازې په اقتصادي برخې پورې تړلې نه ګڼل کېږي، بلکې د سیمې هېوادونو ترمنځ په سیاسي، اقتصادي، امنیتي او فرهنګي برخو کې هم همکاري او اړیکې د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره مهمې ګڼل کېږي. افغانستان د سیمې له هېوادونو سره ګډ فرهنګي، دیني، جغرافیایي او تاریخي مشترکات لري او زموږ د هېواد ثبات او امنیت د سیمې هېوادونو له بهرنیو تګلارو او حالاتو سره مستقیم تړاو لري، دا چې د افغانستان بې ثباتي د سیمې د هېوادونو پر ثبات مستقیمې اغېزې لري، په همدې ډول د سیمه‌ییزې همکارۍ پراختیا د افغانستان او سیمې پر حالاتو هم مستقیم اغېز لري .

د سیمې اوسېدونکي له تاریخي، فرهنګي او مذهبي پلوه ډېر مشترکات لري، د سیمې حالاتو او بدلونونو تل د افغانستان پر حالاتو اغېز درلودلای دی . د تاریخ په اوږدو کې د سیمې وګړو د افغانستان له لارې سوداګري او تګ راتګ کړی چې له امله یې د سیمې ډېر هېوادونه ګډ فرهنګي ارزښتونه لري . د سیمې هېوادونو له پخوا څخه ګډ فرهنګي او تاریخي مشترکات او له یو بل سره نږدې، دیني، ژبني، اقتصادي، تاریخي او فرهنګي تړاوونه لرلي دي، د وریښمو تاریخي لار چې د سیمې هېوادونه او ختیځ او لوېدیځ یې له یو بل سره له اقتصادي پلوه تړلي له افغانستان څخه تېره شوې وه. له همدې امله افغانستان د سیمې او نړۍ د مختلفو هېوادونو او سیمو ترمنځ د پله حیثیت درلود.

**دوام لري...**

# د ژوند ۱۳ رازونه

اکسوس کتابپلورنځی




اروپوهنې په دې وروستیو کې ډېر پرمختګ کړی دی، له خپل پرمختګ سره یې جوخت هغو ټولنو ته هم د پرمختګ واګې په لاس ورکړې چې اروپوهنه مطالعه کوي او اروپوهنې ته د ارزښت په سترګه ګوري، خو په هر حال اروپوهنه هغه علم و چې د انسان نه لیدونکي قدرتونه یې ولیدل.

انسان ته یې پر ځان باور، پاکي، مینه، محبت، کورنی ژوند، د اولاد روزل او ډېر نور داسې مهارتونه ور وښودل چې تر ننه انسان هغه نه وو عملي کړي. ژوند هغو وکړ چې ژوند یې زده کړ، هغوی یوازې راغلل او ولاړل چې ژوند ته یې په خلاصو سترګو ونه کتل او د خپل وجود شته وړتیاوې یې ونه لیدې، هغه یې ونه کارولې او دا وړتیاوې یې همداسې ویدې له ځان سره یووړې، کېدای شي ډېر داسې کسان به وو چې ډېرې وړتیاوې یې لرلې؛ خو دوی ورته ځیر شوي نه دي.

ژوند زده کول غواړي، له ژوند خوند هم هغه کسان اخلي چې دوی ژوند زده کړی وي، موږ کلونه کلونه د جګړو قرباني شوي یو، د ژوند په اړه له ډېرو رازونو بې خبره یو. موږ ژوند کوو؛ خو د ژوند کولو په چل نه پوهېږو. ډېری خلک له خپل ژوند، هیلو، موخو، دندې، مېرمنې، اولاد یا په لسګونو نورو ستونزو شکایت کوي؛ دوی داسې فکر کوي چې دا ټولې ستونزې نورو د دوی په ژوند کې پیدا کړې دي. څوک خبر دي کېدای شي د ستونزو لامل موږ پخپله وو؟

یو وخت مې یوه جمله لوستلې وه، ښایي ډېره مې لوستې وي (ځان و پېژنه چې خدای وپېژنې). دا خبره زرینه کرښه ده، هغوی چې ځان وپېژانده، خدای هم پېژني، زه هغه وخت د دې جملې په مانا هومره نه پوهېدم، تر ډېره به سوال هم راته پیدا شو چې دا جمله څه مانا؟ زه خو ځان پېژنم نور نو څه وکړم؟

خو خبره داسې نه وه، اوس پوه شوم چې د انسان په وجود کې څومره وړتیاوې دي چې پېژندلو ته اړتیا لري، انسان د خدای د بې مثاله قدرت یوه وړه نښانه ده، په واړه وجود کې هومره رازونه پټ دي چې ډېر ورته ګوته په غاښ شي. ریښتیا هم چې د ځان پېژندل د خدای پېژندل دي. ښایي ډېرو به ژوند کړی وي، عمر به یې تېر شوی وي، د ژوند خوږې ترخې به یې لیدلې وي، خو ښایي د عمر تر پایه یې د خپل وجود وړتیاوې نه وي پېژندلې، دوی یوازې خوړلي، څښلي او ځان یې تقدیر ته سپارلی دی. خو هغو چې ځان پېژندلی، په نړۍ کې یې ستر بدلونونه راوستلي دي، هغوی په دې پوه شوي چې نړۍ د انسان لپاره پیدا شوې ده، انسان د مرګ لپاره نه دی پیدا، مرګ د انسان لپاره پیدا دی، انسان د ژوند لپاره پیدا دی، ځو په نړۍ کې د انسانیت او انساني ژوند ستر سمبول شي. انسان ته ښایي چې د ځمکې پر سر خپل رسالت تر سره کړي، هغه رسالت د ښه، با وقار او دینداره ژوند تېرول دي. (د ژوند ۱۳ رازونه چې باید زده یې کړئ) هغه کتاب دی چې په ډېره ساده او خوږه ژبه تاسو ته د ښه او بریالي ژوند کول در زده کوي. په دې کتاب کې د ژوند دیارلس رازونه راوړل شوي، چې په هره یوه راز کې بیا د یوه لوی کتاب په کچه مفاهم او معلومات نغښتي دي. ډاډه اوسئ چې که یاد کتاب په غور، دقت او بیا بیا ولولئ، نو په ځان کې به ښکاره مثبت بدلونونه ووینی. د کتاب لیکوال نایجریایی ځوان لیوینګستون دی او پښتو ژباړه یې حمیدالله حمیدي کړې ده، چې جهان اسلام خپرندویې ټولنې چاپ کړی دی.

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار په نورو لویو کتابپلورنځیو کې هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.



## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د شخصي احوالو فقه | عبدالوهاب خلاف/مفتی رفیع الله نعماني | ۲۷۰ ؋ |
| ۲ | اخلاق تجارت و حسابداری | میر محمد فاروق حیدری | ۲۰۰ ؋ |
| ۳ | مبانی مهندسی مالی و مدیریت ریسک | رضا راعی، علی سعیدی | ۲۵۰ ؋ |
| ٤ | د جګړې هنر | توماس هاین/ محمد هاشم ایاز | ۱۸۰ ؋ |
| ٥ | دیالکتیک دین او سیاست | برهان محق | ۲۲۰ ؋ |
| ٦ | چشم اندازی بر تمدن اسلامی | عبدالرب حازم هروی | ۱٤۰ ؋ |
| ۷ | څلوېښت حدیثونه | عبدالحق حقاني | ۱٥۰ ؋ |
| ۸ | معاصره لیکوالي | احمد شاه زغم | ۳٥۰ ؋ |
| ۹ | د سمونې لارښود | عبدالسمیع وحدت | ۱۸۰ ؋ |
| ۱۰ | مانا پوهنه | ذبیح الله صاحب ارغند | ۱٥۰ ؋ |
| ۱۱ | تاریخي او مقایسوي ژبپوهنه | میراجان غوربندی | ۲۲۰؋ |
| ۱۲ | سبک پېژندنه | هوسا یوسفزۍ نوري | ۲۳۰ ؋ |
| ۱۳ | غمـــــــي غمــــــــي سیندونه | سید جیلاني جلان | ۱۰۰ ؋ |
| ۱٤ | د اسلام ریښتینی مخ(دوه ټوکه) | شفیع الله تاند | ۲۷۰ ؋ |
| ۱٥ | (مبارز یتیم(ناول | فاروق اتل | ۱٥۰ ؋ |
| ۱٦ | محاسبه دولتی | میر محمد فاروق حیدری | ۱۸۰ ؋ |
| ۱۷ | چگونه درس بخوانیم تا فراموش نکنیم؟ | میر محمد ظاهر حیدری | ۱٥۰ ؋ |
| ۱۸ | څنګه درس ووایو چې هېر یې نکړو؟ | میر محمد ظاهر حیدری/بسم الله امیرزی | ۱٥۰ ؋ |
| ۱۹ | خوشحال پېژندنه | پشتون آقا شېرزاد | ۱٥۰ ؋ |
| ۲۰ | حقوق بشر و امنیت فرهنگی تحت چالش ماهواره | عسکر جلالیان، اعظم ایل زکی | ۱۸۰ ؋ |
| ۲۱ | مدیریت پروژه | محمد جواد عاصمی پور | ۳٥۰ ؋ |
| ۲۲ | د نړیوالو اړیکو تاریخ | مورېس واېس/خالد سنګر | ۲۸۰ ؋ |
| ۲۳ | اداري حقوق | ګل رحمن قاضي/محمد نواب خوښ | ۲۰۰ ؋ |
| ۲٤ | په افغانستان کې د عنعنوي جرګو نن او پرون | عبدالجلیل وجدي | ۱٥۰ ؋ |
| ۲٥ | د ادب تیوري | جمشید رشیدي | ۲۲۰؋ |
| ۲٦ | مبادي جغرافیه | محمدعثمان امان | ۲٥۰ ؋ |
| ۲۷ | معاینات لابراتواری معاصر طبی | سیدرضا حسینی | ٤۰۰ ؋ |
| ۲۸ | اموزش گام به گام معادلات تفاضلی معمول و کاربرد انها | عبدالتمیم احدی | ۲٥۰ ؋ |
| ۲۹ | هندسه تحلیلی در فضای سه بعدی | حنیفه حبیب جبارزی | ۲٥۰ ؋ |
| ۳۰ | د ژوند ۱۳ رازونه | حمیدالله حمیدي | ۱۰۰ ؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۰۵ |
| € | ۸۹ |
| Rp. | ٤٥٣ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۷ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانۍ

# ماشومان او د هغوی روزنه

مهر تاج

په لومړنیو پېړیو کې د ماشوم په هکله داسې نظریه موجوده وه، چې ګوندې ماشوم یو خالي لوښی دی، ځکه چې په څه نه پوهېږي؛ هر څه چې تاسو ور اچوی، دغه لوښی پرې ډکېږي. خو د وخت په تېرېدو یاده نظریه غلطه ثابته شوه او څېړنو دا په ډاګه کړه چې نه، ماشوم یو تش کالی/لوښی نه دی.

لکه څرنګه چې مونږ د شخصیت په تعریف کې وایو:

شخصیت هغه مقام، ارزښت او احترام دی چې د ټولنې خلک یې یو چا ته په ټولنه او خپل زړه کې په خپله خوښه، بې له کومې تمې او تمنا ورکوي. یا په بل عبارت، شخصیت د ځینو هغو ارزښتونو ټولګه ده، چې په یوه مشخصه ټولنه کې د ټولنې غړیو ته خاص اهمیت لري.

د شخصیت تعریف ته چې وګورو، ماشوم هم د شخصیت خاوند دی، نو کله چې هغه د شخصیت لرونکی دی، دغه رنګه ورته خالي لوښی هم نه شو ویلی. ماشوم هم پیدایشي حافظه لري، د درک او فکري قوه لري، د عقل او شعور خاوند وي؛ برعکس نسبت لویانو ته د ماشوم فکر هر څه نه یوازې زر حافظې ته سپاري او زر زده کوي، بلکې لنډمهاله یادښت یې پیاوړی وي او اوربدل شوي یا لیدلي څیزونه یې په یاد پاتې کېږي.

ماشوم خالي لوښی نه دی؛ د بېلګې په ډول، که ماشوم په لاره روان وي، دوی چې په خپل چاپېریال کې هر څه ویني؛ نباتات، حیوانات او داسې نور... دوی یې په اړه فکر کوي، ذهن کې یې سوالونه راولاړېږي او د جوابونو لپاره یې لارې پیدا کوي، ځو ځان پرې پوه کړي، دغه پخپله یو ډکون دی، د خالي لوښي په نظر نه باید ورته وکتل شي، دوی له ځان سره ډېر څه لري.

یو شخصیت وي چې په اړه مو یې مخکې وویل او بل شخصیت جوړېدونه ده.

د شخصیت کلمه له شخص څخه اخیستل شوې ده او یو شخص که د بد کردار لرونکی وي، نو خلک یې بد شخصیت بولي او که د ښه کردار لرونکی وي، خلک یې ښه شخصیت بولي.

مخکې مو وویل چې یو ماشوم له پیدایښته یو شخصیت دی، دغه رنګه له پیدایښته یې باید په سالم او ښه شخصیت جوړېدنه باید کار وشي، څو له لویېدلو سره سم فطرتاً ښه شخصیت ترې جوړ شي، چې په اسانۍ بدلیدلی نه شي.

لکه څنګه چې یو تنکی نیالګی هر طرف ته کوږ شي، په هماغه ټاکل شوي مسیر باندې وده کوي، خو که چیرته ونه شي، بیا یې مسیر بدلول یا پکې پرې اچول او نوی مسیر ورته ټاکل هېڅ امکان نه لري، دغه رنګه د ماشوم شخصیت جوړېدنه هم ده، چې له ماشومتوبه یې باید د ښه شخصیت مسیر وټاکل شي.

شخصیت د ژوند په اوږدو کې د ځینو معیارونو ټاکنه ده. زه به یې د یو څو معیارونو ذکر او د ځینو مسولیتونو سپارښتنې وکړم:

۱- په ماشومانو باندې باید باور وشي او پر ځان د باور احساس باید ورکړل شي

ځینې میندې تر دوه- درې کلنۍ پورې خپلو ماشومانو ته په خوله کې خواړه ورکوي، وایي دوی ځان او شاوخوا چټلوي؛ داسې مه کوئ؛ پرېږدئ چې هغوی خپله زده کړي او خپل خواړه پخپله وخوري؛ که کله مصروفه وی، نو ماشوم به مو بې لاسو ګیډې مړولو ته منتظر نه وي، چې یو څوک راشي او په خوله کې خواړه ورکړي.

ماشومان پرېږدئ چې خپل کارونه په خپله وکړي، لکه د جامو اغوستل، یو څه راخیستل او داسې نور؛ په دې کارونو سره یې د بدن عضلې حرکت کوي او د زیات حرکت په وجه ماشوم ښه وده کوي، قد قامت یې ښه رشد کوي او تندرست وي.

د ماشومانو په تیروتنو نه تنها په هغوی مه غوسه کېږئ او مه یې وهئ، بلکې د هغوی تر مخه تاسو په خپلو منځو کې د جنګ، غوسې، په لوړ غږ چیغې وهل او خپګان ښکارندونه مه کوئ؛ ځکه د رواني ناروغۍ او ذهني کمزورتیا سبب یې کېږي.

۲- خپل ماشومان دې ته مه ساتئ چې کله د ښوونځي د تګ شول، نو هر څه به په ښوونځي کې زده کړي او پوه به شي. مخکې له دې چې اولادونه مو ښوونځي یا وړکتون ته د تګ جوګه شي؛ له استاد لومړی تاسو خپل مسوولیت ادا او ابتدایه معلومات باید ور زده کړئ!

زمونږ په ټولنه کې یو بد فرهنګ دا دی، چې ماشومانو ته د لویانو نومونه نه ور زده کوو، یا یې تر مخ نه اخلو، ځکه چې نه غواړو زده یې کړي، نوم اخیستل بې احترامي او سپکاوی ګڼو. کوچنې ماشومان باید د خپل مور، پلار او نورو مشرانو له نومونو سره اشنا وي، خپل اصلي او فعلي استوګنځای باید وپیژني؛ که کله نادرکه یا ورک شي، حد اقل خپله پته باندې خو به پوهېږي، څو چا ته یې په اړه معلومات ورکړي.

۳- په ملي ارزښتونو یې پوه او له ځینو نومونو سره یې اشنا کړئ

د بېلګې په ډول، خپل ملي بیرغ ورپیژندل، د هیواد، مرکز او ټولو ولایتو نومونه، د ورځو نومونه، یوه اونۍ څو ورځې، یوه میاشت څو اونۍ کېږي، یو کال څو میاشتې او د میاشتو نومونه ور زده کول. د خپل رهبر، ولسمشر، د خپلې سیمې د ملک نوم ور زده کول. د خپل دین او مذهب په هکله معلومات ورکول او پوهول. د الفبا او ABC حروف سره تر لسو عددونو شمیر سره په شکلونو ورپیژندل؛ دا هغه څه دي چې کله دوی وړکتون یا لومړي ټولګي ته ځي، په ډېر څه به له وړاندې پوهېږي، د نورو همزولو په وړاندې به ځان تکړه او پوه احساسوي، زړور به وي او جرئت پیدا کوي.

په عباداتو کې ورته د دوزخ او جنت په کیسو او وېرولو دومره ډېر افراطي ټینګار مه کوئ، چې زړه یې توری شي او هسې افسانې یې وګڼي.

خبرو ته یې غوږ کېږدئ او د هر سم و ناسم سوال جواب په پوره حوصلې او نرمی سره ورکړئ، د کم عقل، ناپوه او دیته ورته نورو الفاظو یې مه لمانځئ!

د لویانو په شان د چال چلند، کړنو او هوښیارتیا توقع ترې مه کوئ، پر ځای یې خپل وخت را په یاد کړئ، چې کله د دوی په سن وی څرنګه وی!؟

۴- غرور یې مه ماتوئ

په تنکۍ ځوانۍ کې یې همزولو یا نورو خلکو تر مخه مه رټئ، په غلطۍ یې د کمترۍ احساس مه ورکوئ. نسبت وړوکوالي ته پرې نظر زیات ساتئ، خو دومره څرګند تحقیقات مه پسې کوئ، چې هغوی درباندې پوه شي، چې ګوندې باور پرې نه لری او ځارل کېږي.

باور پرې ولرئ او د دې حق ورکړئ چې خپل تصامیم پخپله ونیسي. لکه، د جامو رنګ او ډیزاین، د ویښتانو، چیرته د تګ راتګ، د مسلک ټاکل دا چې په راتلونکي (پوهنتون) کې کومه څانګه انتخاب کړي او په څانګړې توګه د ژوند د ملګري / ملګرې په انتخاب کې خپله خوښه پرې مه تحمیلوئ، تصامیمو ته یې احترام ولرئ، که چیرته غلط وو، نو په غلط ثابتولو یې مه ملامتوئ او رسوا کوی یې مه، بلکې په غیر مستقیم ډول احساس ورکړی چې که دا تصمیم داسې نه واى نیول شوی، نو لا به بهتر او ښه وي او زمونږ خوښي به پکې وي.

# ملګري ملتونه: د افغانستان د کانونو غیر قانوني کیندنې د شخړو او فساد لامل شوي

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام په یوه راپور کې ویلي، له لسیزو راهیسې له یو روښانه لید لوري پرته د کانونو کیندنه د سیمه ییزو شخړو لامل شوې او چاپېریال یې هم زیانمن کړی دی.

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام چارواکو تېره ورځ د۲۰۲۰ ز کال د بشري پراختیا، بلقوه ظرفیتونو او د منرالونو د سپړنې احتمالي خطرونو تر نامه لاندې په راپور کې ویلي، چې له څو لسیزو راپه دې خوا په افغانستان کې له یو روښانه لیدلوري پرته د کانونو سپړنې نه یوازې دا چې د بې وزلۍ له منځه وړلو سره مرسته نه ده کړې، بلکې د سیمه ییزو شخړو د زیاتوالي لامل شوې او چاپېریال ته یې هم زیان اړولی دی.

د دغه سازمان په راپور کې راغلي، د کانونو او منرالونو ناقانونه کیندنې یا استخراج، د ناامنۍ د زیاتوالي، فساد، د بشري حقونو د نقض او شخړو لامل شوی او د خلکو ژوند اغېزمن یې کړی دی.

راپور زیاتوي، دا موضوع د دې لامل هم شوې، چې فاسد کسان او شبکې د کانونو په سکټور کې جذب شي.

په دغه راپور کې راغلي، د کانونو ځینې پانګه‌وال د بشري حقونو جدي سرغړوونکي دي او دوی د تعقیب او مجازاتو له وېرې پرته خپلو کارونو ته دوام ورکوي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د استازي ارشد مرستیالې کاټرین ماساکا په ویډیو خبري کنفرانس کې ویلي: «د کانونو غیر قانوني کیندنو سیمه ییزې شخړې او لانجې جوړې کړې او د هېواد د ناامنۍ لامل شوي، د کانونو په کیندنه کې د فساد له امله تر ډېره ملي عواید د خلکو پرځای شخصي جیبونو ته ځي.»

هغه ویلي، د کانونو سترې نفتي او ګازي پروژې کولای شي چې د پراختیایي باور پر ټینګښت اغېز ولري، خو ټیکاو او غوره حکومتولي ظرفیت ته اړتیا لري، څو وکولای شي په دغه پروژو کې خپله ونډه لاس ته راوړي او دوی د انساني پراختیا لپاره په مناسبه توګه وکارول شي.

په ورته وخت کې د کانونو او پټرولیم وزارت د دغه راپور له خپرېدو هرکلی کوي او وایي چې د راپور د وړاندیزونو برخو ته به جدي پاملرنه وشي.

د دغه وزارت ویاند عبدالقدیر مطفي په دې تړاو ازادي راډیو ته ویلي: «هغه شرکتونه چې د قرارداد مطابق ټولنیزه هوساینه رامنځته نه کړي، د سیمه ییزو شخړو لامل شي، چاپېریال ته زیان ورسوي او دغه شان که تثبت شي چې کوم قرارداد کوونکی د بشر حقونو سرغړوونکی دی، نه یوازې دا چې قرارداد یې لغوه کېږي، بلکې عدلیې او قضایي ارګانونو ته به هم معرفي کېږي.»

# اتمر: که طالبان له ترهګرو ډلو سره اړیکې پرې نه کړي، د سولې هېڅ تړون به ورسره ونه شي

د بهرنیو چارو سرپرست محمد حنیف اتمر وایي، که طالبان له القاعده او نورو ترهګرو ډلو سره اړیکې پرې نه کړي، نو د سولې هېڅ تړون به رامنځته نه شي.

هغه ټینګار کړی چې د سولې تړون به د افغانستان اسلامي جمهوریت پر اصل بنا وي. اتمر له بي بي سي سره په مرکه کې ویلي، له طالباو سره د سولې خبرې په ټوله کې دوې موخې لري؛ لومړی دا چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ تلپاتې سوله وشي، داسې سوله چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت پر اصل ولاړه وي.

د نوموړي له نظره دویمه موخه دا ده چې دا یقین تر لاسه شي چې طالبان له القاعده او نورو ترهګرو سیمه‌ییزو او نړیوالو ډلو سره اړیکې پرې کړې، خو که دا اړیکې پرې نه شي، نو د سولې کوم تړون به هم رامنځته نه شي.

نوموړي د طالبانو او نورو ترهګرو ډلو ترمنځ اړیکو ته په اشارې ویلي چې دا د افغان دولت او نړیوالو همکارانو لپاره یو چلېنج دی.

اتمر د بندیانو د تبادلې او سولې په چاره کې د رامنځته شوي ځنډ په تړاو د یوې پوښتنې په ځواب کې هغه وویل چې افغان دولت او نړیوال همکاران له طالبانو او سیمه‌ییزو ښکېلو خواوو سره په اړیکه کې دي او په خبره یې، هیله من دی چې په دې برخه کې د رامنځته شوې ستونزې د هوارې لپاره یوې اجماع او حل لارې ته ورسیږي.

خو د بهرنیو چارو وزیر ټینګار وکړ چې افغان دولت د طالب زندانیانو د خوشې کولو په برخه کې خپلې ژمنې پر ځای کړې او د پاتې ۳۲۰ زندانیانو خوشې کولو ته هم ژمن دی، خو په دې شرط چې طالبان هم زندانیان خوشې کړي.

د یادولو ده چې د امریکا دفاع وزارت یا پنټاګون په خپل درې میاشتنې رپوټ کې چې څو ورځې وړاندې کانګرېس ته وړاندې شو، ویلي چې طالبان لا هم القاعده سره اړیکې لري.

په دې رپوټ کې چې د روان کال د اپرېل له لومړۍ د جون تر وروستۍ نېټې پورې مودې په اړه دی، ویل شوي چې طالبانو له القاعده سره پر افغان ځواکونو ګډ بریدونه کړي دي.

په دې رپوټ کې ویل شوي چې طالبانو له امریکا سره د جګړې پای ته رسولو په برخه کې خپلې ژمنې عملي کړې، خو پر افغان حکومت او افغان ځواکونو یې بریدونه پراخ کړي دي، خو طالبانو دا څرګندونې رد کړې او ټینګار یې کړی چې د القاعده په څېر ډلو ملاتړ ته اړتیا نه لري.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily




چهارشنبه د ۱۳۹۹ د وږي پنځمه | د ۲۰۲۰ د اګسټ ۲٦مه | ۵۸۵یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af   twitter/MaseerDaily   Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۳ | ۳٦ | ۳۷ | ۳۸ | ۳۸ | ۳٤ |
| ۲۰ | ۲۱ | ۲۱ | ۲۲ | ۲۳ | ۱۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۵۲ | لمر ختل ۰۵:۲۰ | ماسپښین ۱۱:۵۷ | مازیګر ۰۳:۳۹ | ماښام ۰٦:۳۲ | ماخوستن ۰۸:۰۱

## نړۍ



## ټرمپ: د پوست له لارې ټاکنې به د امریکا په تاریخ کې له درغلیو تر ټولو ډکې ټاکنې وي

۲

## اداره عالی بازرس دو والی برحال و دو والی پیشین حکومت را به څارنوالی معرفی کرده است



ادارهٔ عالی بازرس ریاست جمهوری می گوید که دو والی برحال و دو والی پیشین حکومت را به څارنوالی معرفی کرده اند .

فیروز بشری رئیس اطلاعات و ارتباطات این اداره گفته است که والیان برحال بدخشان و میدان وردک و والیان پیشین هرات و نورستان به لوی څارنوالی معرفی شده‌اند.

به گفته ای منبع، افزون بر والیان، تمامی مسئولان مالی و تدارکاتی این چهار ولایت نیز به لوی څارنوالی معرفی گردیده اند.

بربنیاد معلومات منبع، در نتیجه بررسی های اداره بازرس، والیان پیشین هرات و نورستان و والیان برحال میدان وردک و بدخشان بخاطر مدیریت نادرست بودجه کرونا مظنون شناخته شده و جهت تحقیقات بیشتر به لوی څارنوالی معرفی گردیده اند.

این درحالیست که اداره بازرس ریاست‌جمهوری دو روز پیش گفته بود که فیروزالدین فیروز، وزیر پیشین وزارت صحت عامه و چهار معین پیشین و برحال این وزارت را به اتهام فساد در مصرف بودجه‌ی کرونا به لوی څارنوالی معرفی شده‌اند.

رئیس‌جمهور اشرف غنی، اداره بازرس ریاست‌جمهوری را به دنبال برخی از گزارش مبنی براینکه در مصرف بودجه‌ی اختصاصی کرونا حیف‌ومیل صورت گرفته است. ایجاد کرد . این اداره مکلف گردیده است که اتهام‌های فساد در مصرف بودجه‌ی کرونا را بررسی کند.

## د اټومي انرژۍ د نړيوالې ادارې مشر د اټومي لانجو د حل په موخه ایران ته رسېدلی دی



د راپورونو له مخې، د اټومي انرژۍ د نړيوالې ادارې مشر رافايل ګروسي ایران ته تللی او له یاد هېواد سره به د اټومي لانجو د حل په موخه خبرې وکړي.

نوموړی به د ایران له ولسمشر حسن روحاني، د اټومي انرژۍ له مشر علي اکبر صالحي او د یاد هېواد له یو شمېر نورو مشرانو سره د اټومي لانجې پر حل خبرې وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې ګروسي اته میاشتې وړاندې د اټومي انرژۍ د نړيوالې ادارې مشر شو او له هغه راهیسې دا ایران ته د نوموړي لومړنی سفر دی.

دا سفر داسې مهال کېږي چې ایران لا هم په ویانا کې مېشتې دغې ادارې ته د هغو دوو سایټونو د کتنې اجازه نه ورکوي چې ګومان کېږي اټومي فعالیتونه به پکې کېږي.

بل لورته امریکا هم هڅه کوي چې پر ایران د ملګرو ملتونو بندیزونه بیا ولګوي. ګراسي له دې سفره مخکې ویلي، هیله من دی چې له دې لیدو کتو سره به د اټومي انرژۍ د نړیوالې ادارې پوښتنې حل او د مشکوکو سایټونو د لیدو فرصت برابر شي.

د یادونې ده چې په دې وروستیو کې امریکا د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته یوه طرحه وړاندې کړه چې پکې پر ایران د بندیزونو د مودې د غځېدو غوښتنه شوې وه، خو امنیت شورا دا طرحه په غوښ اکثریت سره رد کړه.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر ۸۱۸ زره او ۲۰۸ تنو ورسېد


د تازه شمېرو له مخې، کرونا ویروس لاهم په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی. د دغو شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د یاد ویروس مثبتې پېښې نږدې ۲۴ میلیونو ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ۸۱۸ زره او ۲۰۸ تنه مړه شوي او نږدې شپاړس نیم میلیونه ترې ببرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو پر اساس د امریکا متحده ایالتونه لاهم د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د کرونا ویرس مثبتې پېښې شاوخوا شپږو میلیونو ته رسېدلې او دغه راز ۱۸۱ زره او ۲۰۴ امریکایان یې مړه کړي دي.

تر امریکا وروسته برازیل د دری میلیونه او ٦۲۷ زره او ۲۱۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، هند د دری میلیونه او ۱۹۱ زره او ۹۷۷ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ دریېم، روسیه د ۹٦٦ زره او ۱۸۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ څلورم او جنوبي افریقا د ٦۱۱ زره او ۴۵۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د یاد ویروس ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.

## ژوند


## د لړ او ډېر عاید تر منځ توپیر عمل ټاکي



دا سمه ده چې پیسې نېکمرغي نه شي راوستی، خو نه شتون یې سل بدبختۍ زیږولی شي. پیسې د ژوند یوه مهمه او اړینه برخه ده. پر شتمن کېدو فکر وکړئ او هڅه وکړئ، چې عواید مو ورځ تر بلې زیات شي. منفي افکار مو له پامه وغورځوئ او له ځانه مثبته انرژي خوره کړئ. بې له شکه چې د پرمختګ ډېرې لارې شته، خپله یې پیدا کړئ. د دې لپاره چې عواید مو زیات شي، سخت او دایمي کار ته اړتیا ده. مهمه نه ده چې ستاسو د سواد کچه څومره ده، خو بیا هم د شتمن کېدو هیله ولرئ. د خپلو وړتیاوو او مهارتونو په اړه فکر وکړئ او که اړتیا وه زیات یې کړئ. په هڅې او هاند سره ورځ تر بلې ستاسو د کار محیط پراخېږي. د کار د محیط پراخوالی ستاسو د عوایدو د زیاتېدو لامل ګرځي. له وېرې او تنبلۍ ځان وژغورئ، ځکه ډېر کله د کار په پیل کې دغه دوه څېزونه ستاسو د بریا مخه نیسي.

## بلک بیري نوی ځیرک موبایل معرفي کړ

د بلک بیري ځیرک موبایلونه د پیاوړي امنیتي سیستم لرلو له امله ځانګړی شهرت او مینه‌وال درلودل او اکثره سیاسي مشرانو او ولسمشرانو هم د دغې کمپنۍ ځیرک موبایلونه کارول، خو د ۲۰۱٦ کال په سپتمبر کې دغې کمپنۍ اعلان وکړ چې د مالي ستونزو له امله نور ځیرک موبایلونه نه جوړوي. له هغې وروسته دغې کمپنۍ خپل جواز ټي سي اېل نومي چینایي کمپنۍ ته ورکړ او دغې کمپنۍ څو ځیرک موبایلونه هم معرفي کړل. د ۲۰۲۰ کال په فبروري کې له ټي سي اېل سره د بلک بیري ملګرتیا پای ته ورسېده او داسې ښکارېده چې بلک بیري به بیا هېڅکله ځیرک موبایل خرڅلاو ته وړاندې نه کړي؛ خو اوس دغه کمپنۍ د



انوړد موبیلېټي، فوکس کان او د دوی ترلاس لاندې کمپنۍ ایف ای ایچ موبایل لمټډ سره ملګرتیا پیل کړې او غواړي خپل فعالیتونه له سره پیل کړي. د بلک بیري نوی ځیرک موبایل به د ۲۰۲۱ لومړۍ نیمایي کې امریکا او اروپا کې خرڅلاو ته وړاندې شي.



د خپلو هیلو پوره کولو لپاره نغدو پیسو ته اړتیا لرئ !!!!!!!

د معاشاتو پور له په زړه پورو او آسانو شرایطو سره ترلاسه کړئ

- د پور آسانتیا په افغانیو او امریکایي ډالرو کې شتون لري
- لنډمهاله پور د 12 میاشتو سره
- آسان سند جوړونه
- د دولتي، غیر دولتي او خصوصي سکتور کارکوونکي کولی شي دغه پور ته لاسرسی ولري

دلازیاتو معلوماتو لپاره ز مونږ نږدې څانګې یا هم په مرکزي دفتر کې د پورونو څانګې څخه لیدنه وکړئ او یاهم ز مونږ 24 ساعته شمېرې1515 سره اړیکه ټینګه کړئ

عزیزی بانک
Azizi Bank

www.azizibank.af   1515